Migration and Refugee Services
Renewing Hope. Seeking Justice.
UNITED STATES CONFERENCE OF CATHOLIC BISHOPS

# د افغانانو لپاره د USRAP او USCIS کړنلاره (Pashto)

لاندې معلومات د قانوني مشورې په توګه نشي کارول کیدی. نوموړي معلومات د 05/03/2023 نیټې پورې تازه او بدلون پکې راتللی شي.
د نورو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ: https://www.state.gov/afghanistan-family-reunification/

| | P1 | P2 | P3/AOR | DS-4317 | SIV | د مهاجرت د ځانګړې ویزې لرونکي دې تعقیب: امریکا په داخل کې | د مهاجرت د ځانګړې ویزې لرونکي دې تعقیب: د امریکا څخه بیرون ورکول شوې د مهاجرت ویزې | I-730 | I-130 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کولای شي د افغانستان له داخل څخه پروسه پیل کړي | **ممکن**<br>**راجع کول + لومړنۍ پروسه پر مخ وړل**<br>(ډیرکم)<br>د ټاکلي سازمانونو لکه سفارت، انجو او یا هم یو این ایچ سي آر له لوري د کیس راجع کیدل | **هو**<br>**راجع کول + لومړنۍ پروسه پر مخ وړل**<br>د امریکا د متحده ایالاتو د یوې حکومتي اداري، امریکایي میشتي این جي او او یا هم د یو مطبوعاتي سازمان له لوري راجع کیدل | **نه**<br>ګټه اخیستونکي باید د درخواست کوونکي له لوري د اړیکې اقرارلیک یا Affidavit یا (AOR) د لیږلو پر وخت له افغانستان څخهبیرون وي | **هو**<br>**غوښتنلیک + لومړنۍ پروسه پر مخ وړل**<br>په بریښنایي توګه د درخواست کوونکي له لوري د DS-4317 لیږل | **هو**<br>**غوښتنلیک + لومړنۍ پروسه پر مخ وړل**<br>ه بریښنایي توګه د درخواست کوونکي له لوري د DS-4317 لیږل | **هو**<br>**غوښتنلیک + لومړنۍ پروسه پر مخ وړل**<br>په بریښنایي توګه د درخواست کوونکي له لوري له I-824 سره ی د منل شوي I485 لیږل | **هو**<br>**غوښتنلیک + لومړنۍ پروسه پر مخ وړل**<br>ګټه اخیستونکی DS-260 فورم بشپړوي او درخواست کوونکی له منل شوي I-485 سره NVC ته ایمیل لیږي | **هو**<br>**غوښتنلیک + لومړنۍ پروسه پر مخ وړل**<br>د درخواست کوونکي له لوري په کاغذي توګه د I-730 لیزل | **هو**<br>**غوښتنلیک + لومړنۍ پروسه پر مخ وړل**<br>د درخواست کوونکي له لوري په کاغذي او یا هم بریښنایي توګه د I-130 فورم لیزل |
| د امریکا متحده ایالاتو د حکومت د انتقال یا لیږد په پروازونو کې د شمولیت وړتیا | **ممکن**<br>که د پي یو کیس ومنل شي ممکن د لیږد مستحق وپیژندل شي. | **ممکن**<br>که د پي ټو راجع شوی کیس و منل شي ممکن د لیږد مستحق واوسي | **نه** | **هو**<br>کهDS-4317 ومنل شي | **هو**<br>که چېرته DS-157 منل شوی او کیس د انټرویو یا مصاحبې لپاره اماده وي | **هو**<br>که چېرته I-824منل شوی او کیس د انټرویو یا مصاحبې لپاره اماده وي | **هو**<br>که چېرته DS-157 منل شوی او کیس د انټرویو یا مصاحبې لپاره اماده وي | **هو**<br>که چېرته DS-730 منل شوی او کیس د انټرویو یا مصاحبې لپاره اماده وي | **هو**<br>نږدې خپلوان یوازې کله چې: که چېرته DS-157 منل شوی او کیس د انټرویو یا مصاحبط لپاره اماده وي |
| | ** د انتقال د پروازونو لپاره د وخت لرونکي پاسپورت درلودل اړین دي ** | | | | | | | | |
| باید له افغانستان څخه بیرون خپله پروسه بشپړه کړي | **هو**<br>دریمګړي هیواد ته د لیږد یا USRAP پروسه پرمخ وړل اړینه ده | **هو**<br>دریمګړي هیواد ته د لیږد یا USRAP پروسه پرمخ وړل اړینه ده | **هو**<br>دریمګړي هیواد ته د لیږد یا USRAP پروسه پرمخ وړل اړینه ده | **هو**<br>د متحده ایالاتو د کونسلګرۍ پروسه پر مخ وړل اړین دي | **هو**<br>د متحده ایالاتو د کونسلګرۍ پروسه پر مخ وړل اړین دي | **هو**<br>د متحده ایالاتو د کونسلګرۍ پروسه پر مخ وړل اړین دي | **هو**<br>د متحده ایالاتو د کونسلګرۍ پروسه پر مخ وړل اړین دي | **هو**<br>د متحده ایالاتو د کونسلګرۍ پروسه پر مخ وړل اړین دي | **هو**<br>د متحده ایالاتو د کونسلګرۍ پروسه پر مخ وړل اړین دي |

Migration and Refugee Services
Renewing Hope. Seeking Justice.
UNITED STATES CONFERENCE OF CATHOLIC BISHOPS

# د افغانانو لپاره د USRAP او USCIS کړنلاره (Pashto)

لاندې معلومات د قانوني مشورې په توګه نشي ګڼل کیدی. نوموړي معلومات
د 05/03/2023 نیټې پورې تازه او بدلون پکې راتللی شي.

| | |
|---|---|
| P1 | د امریکا په متحده ایالاتو کې په خطر کې د واقع وګړو د ممکنه میشتیدنې لپاره د P1 د اساسي کړنلارې او پروګرام پر بنسټ د پېژندنې پرته د P1 کیسونو ی راجع کولو موارد ډېر کم دي. هغه افغانان چې USRAP یا انتقال پروګرام ته راجع او معرفي شوي وي باید د خپل مهاجرت د دوسیې د پروسس لپاره دریم هیواد ته ولاړ شي. |
| P2 | هغه افغانان چې USRAP یا انتقال پروګرام ته راجع او معرفي شوي وي باید د خپل کیس د پر مخ بیولو لپاره له افغانستان څخه بیرون په کوم بل هیواد کې وي. |
| P3/AOR | ګټه اخیستونکي لکه قانوني ښځه یا میړه، ناواده شوي کوچنیان چې عمر يې له ۲۱ کالو کم وي، او مور او پلار، د ځانګړو حالاتو لرونکي نور زیات شوي موارد باید له افغانستان څخه بیرون وي او په کوربه هیواد کې باید د نوموړي هیواد یا مهاجرت د نړیوال سازمان UNHCR د ثبت سند یا POR ولري. لاندې هیواد د ثبت د نوموړي سند څخه مستثنا دي: پاکستان، بینین، سینیګال، مالي، مالاوي، موزمبیق، سیرالیون، موریتوس، ګانا، لایبریا. هر افغان چې په یو د پورته هیوادونو کې اوسیږي POR ته اړتیا نه لري. هر سند چې د دوی نوم او د زیږیدو نیټه ولري بسنه کوي. د P3 کیسونه په ترکیې او ایران کې نه پروسس کیږي. |
| DS-4317 | دا کړنلاره یوازې د قانوني ښځې یا میړه او له ۲۱ کلونو څخه کم عمره ناواده کړیو کوچنیانو لپاره ده کوم چې د تخلیې پر مهال له خپلو کورنیو څخه بیل شوي. درخواست کوونکی باید د بشردوستانه ویزې له لارې د امریکا متحده ایالاتو ته داخل شوی وي. د امریکا متحده ایالاتو حکومت د DS-4317 د تر لاسه کولو وروسته د راتګ د پروسې د ټاکنې لپاره له تاسو سره په اړیکه کې شي. که د متحده ایالاتو حکومت وکولای شي په انتقال کې ستاسو له کورنۍ سره مرسته وکړي نو هغوی به داسې یو هیواد ته سفر کوي چې هلته د مهاجرت خپله دوسیه بشپړه او پروسس کړي. |
| SIV Follow-to-Join | که د مهاجرت ځانګړې ویزه د امریکا د متحده ایالاتو څخه بیرون ورکول شوې وي او قانوني ښځه یا میړه او له ۲۱ کلونو کم ناواده کړي کوچنیان د COM Approval لپاره په اصلي غوښتنلیک کې شامل وو. درخواست کوونکی باید د منل شوي I-485 فورم په وسیله د ویزې د ورکړې ملي اداري یا NVC ته خبر ورکړي او ګټه اخیستونکي باید د DS-260 لپاره اپلای وکړي. که د مهاجرت ځانګړې ویزه یا SIV د امریکا په متحده ایالاتو کې دننه ورکول شوې وي، ښځې یا میړه باید له تاسو سره ستاسو د غوښتنلیک د تعیل شوي حالت یا Adjustment له منلو څخه مخکې له تاسو سره واده کړی وي او ماشوم هم له دې وړاندې زیږیدلی وي. درخواست کوونکی د USCIS سره I-824 فورم جمع کوي. د کورنۍ غړي اړ دي چې د انټرویو او نورو اړتیاوو لپاره له افغانستان څخه بیرون د امریکا د متحده ایالاتو په کوم سفارت یا کونسلګرۍ حاضر شي. که د متحده ایالاتو حکومت وکولای شي په انتقال کې ستاسو له کورنۍ سره مرسته وکړي نو هغوی به داسې یو هیواد ته سفر کوي چې هلته د مهاجرت د ځانګړې ویزې یا SIV پروسه بشپړه کړي. |
| I-730 | د امریکا د متحده ایالاتو حکومت ممکن وکولای شي چې ستاسو د قانوني ښځې یا میړه او له ۲۱ کلونو څخه ښکته ناواده شویو کوچنیانو د راویستلو په برخه کې مرسته وکړي. دولت به هغه وخت په دې برخه کې ستاسو د کورنۍ له غړو سره ا ړیکه نیسي کله چې I-730 ومنل شي او ستاسو د کورنۍ غړي د مرکې لپاره اماده وي. که د امریکا حکومت ستاسو له کورنۍ سره له افغانستان نه په راوتلو کې مرسته وکولای شي نو هغوی به داسې یو هیواد ته سفر کوي چېرته چې د پناه غوښتنې خپل فرعي دوسیه بشپړه او پر مخ یوسي. |
| I-130 | د امریکا د متحده ایالاتو حکومت ممکن وکولای شي چې ستاسو د نږدې خپلوانو: د قانوني ښځې یا میړه او له ۲۱ کلونو څخه ښکته ناواده شویو کوچنیانو او ستاسو د مور او پلار د راویستلو په برخه کې مرسته وکړي. له دې وروسته چې د ویزو ورکولو ملي مرکز یا NVC ستاسو ی کورنۍ غړو ته خبر ورکړي چې د پناه غوښتنې یا مهاجرت غوښتنلیک یې د مرکې لپاره اماده دی، د امریکا حکومت به ستاسو د کورنۍ له غړو سره د انتقال د لارو چارو د انتخاب اړوند اړیکه ونیسي. که د امریکا حکومت ستاسو له کورنۍ سره له افغانستان نه په راوتلو کې مرسته وکولای شي نو هغوی به داسې یو هیواد ته سفر کوي چېرته چې د پناه غوښتنې دوسیه بشپړه او پر مخ یوسي. |

**د نورو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ**

https://www.state.gov/afghanistan-family-reunification/